# خپل حقونه وپېژنئ:

## ځان چمتو کړئ:

- ډاډ ترلاسه کړئ چې ټول اسناد په داسې خوندي ځای کې دي چې د کورنۍ غړي ورته لاسرسی موندلی شي.
- د خپل ماشوم لپاره د یو پالونکي مشخص کولو په ګډون، د هغه وخت لپاره له خپلې کورنۍ سره یو پلان جوړ کړئ چې که چېرې تاسو یا ستاسو د کورنۍ کوم غړی د ICE له لوري توقیف شي.
- مهمې ټلیفوني شمېرې په یاد ولرئ.
- د کډوالۍ له یو وکیل سره مشوره کول په پام کې ونیسئ.

## تاسو لاندې حقونه لرئ:

- تاسو د دې حق لرئ چې غلي پاتې شئ او له یو وکیل سره اړیکه ونیسئ.
- تاسو حق لرئ چې عدالت ترلاسه کړئ او ستاسو قضیه د یو قاضي له لوري واورېدل شي.
- تاسو د دې حق لرئ چې ستاسو یا ستاسو د کور تالاشۍ (پلټل کېدو) ته نه وواياست مګر داچې ICE د نیول کېدو حکم ولري (د لرې کولو حکم نه او داسې نور). استازي د دې حق نه لري چې ستاسو له رضایت یا احتمالي لامل پرته تاسو یا ستاسو اړوند توکي وپلټي.
- تاسو حق لرئ چې له ICE څخه د تللو (ځای پرېښودلو) غوښتنه وکړئ.

## که چېرې تاسو له ICE سره مخامخ شئ:

- پرته له غوښتنې (په رضاکارانه ډول) معلومات مه ورکوئ.
- تاسو اړ نه یاست چې د خپل کډوالۍ حالت یا د زېږون ځای په اړه معلومات ورکړئ.
- که چېرې ICE ستاسو له اجازې، احتمالي لامل یا یو حکم پرته ستاسو کور ته ننوځي، په روښانه ډول ووایاست چې تاسو هغوی ته د ننوتلو یا ستاسو د اړوند توکو پلټلو اجازه نه ورکوئ.
- دروغ مه وایاست یا د غیر حقیقي نوم په ګډون ناسم یا جعلي اسناد مه ورکوئ.
- تاسو مکلف نه یاست چې له یو وکیل سره له خبرو کولو پرته کوم سند لاسلیک کړئ. داسې کوم سند مه لاسلیکوئ چې تاسو پرې نه پوهېږئ.
- که چېرې تاسو د خوندیتوب احساس کوئ، نو پېښه (د ویډیوي یا غږیز ثبت په وسیله) له موبایل څخه په ګټې اخیستنې سره مستنده کړئ.
- که چېرې ICE ستاسو کور یا د کار ځای ته راشي، نو د دروازې له خلاصولو څخه مخکې ورڅخه غوښتنه وکړئ چې حکم در وښيي.

---

د مسوولیت نه منلو قانوني بیان: دا سند یوازې د عمومي معلوماتي موخې لپاره دی. د دې پاڼې منځپانګه حقوقي مشوره نه ګڼل کېږي.

U.S. CONGRESSMAN
ROB MENENDEZ
Proudly serving New Jersey's 8th District